د افغانستان د سولې او عدالت ملي حرکت
حرکت ملی صلح و عدالت افغانستان
افغانستان تینچلیک و عدالت ملی حرکتی
AFGHANISTAN NATIONAL MOVEMENT
FOR PEACE AND JUSTICE

# اعلامیه او د لارې نقشه

# د افغانستان د سولې او عدالت ملي خوځښت

۲۳ میزان ۱۴۰۱ (۱۵ اکتوبر ۲۰۲۲ )

آمو amu.tv

بِسْمِ اللَّهِ الرحمن الرحيم

**إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ**

(سورت الحجرات ۱۰مه شمېره آيت)

ژباړه: يقيناً مؤمنان سره ورونه دي، نو ځکه د خپلو ورونو ترمنځ سوله (روغه جوړه) وکړئ، او د الله څخه وويريږئ ښايي چې پر تاسو رحم وشي.

(تفسير کابلی)

د هېواد له يو بل سره تړليو امنيتي، اقتصادي، بشري او سياسي بحرانونو په اړه د ژورې خواشينۍ په څرګندولو سره،

چې د افغانستان د اسلامي جمهوري نظام د دردناک او ناوړين زيږونکي سقوط په پايله کې رامنځته شوي دي او ياد بحرانونه ورځ تر بلې په دې اندازه پراخ او ژوريږي چې هېواد يې له سختو ګواښونو سره مخامخ کړی دی؛

دا چې د دې بحرانونو عوامل يوازې داخلي نه دي، نو ښکاره ده چې اغيزې به يې هم يوازې تر افغانستان پورې محدودې نه وي او نه به هم محدودې پاتې شي؛

په دې باوري يو چې د دې بحرانونو د کمښت او بشپړ حل په پار ملي او نړۍواله همکاري اړينه ده، ولې دا هر څه اوس‌مهال په هېواد کې د داسې حاکميت په شتون کې چې له ملي او نړۍوال مشروعيت څخه برخمن نه دی، ناشوني ښکاري؛

د دې په درک کولو سره چې د هېواد د اوسني نازک حالت په اړه سيمه او په ټوله کې نړۍواله ټولنه جدي انديښنې لري، خو هيڅ هېواد يا نړيوال بنسټ، د روان وضعيت د مهار کولو له پاره عملي برنامه تر لاس لاندې نه لري؛

له خپل مظلوم ملت سره د پيوستون او ملي مسؤليت، ديني او تاريخي رسالت د درک او احساس له مخې چې ملت له تېرو څلورنيمو لسيزو را پديخوا په جګړې، وينې بهېدنې، لوږې، فقر، محروميتونو او دردونکي حالت کې شپې او ورځې سبا کوي او لا هم د بې شمېره سختيو پر وړاندې مقابله کوي؛



آمو amu.tv

بناً یو شمیر سیاسي او مذهبي مشران، د مدني ټولنې غړي، د رسنیو استازي، علمي کادرونه او د هېواد د خصوصي سکتور استازي چې پکې ښځې او نارینه شامل دي، دې پایلې ته رسیدلي ترخو **د سولې او عدالت له پاره ملي خوځښت** تر نامه لاندې سیاسي برنامه په لاره واچووي او خپل سیاسي موجودیت اعلان کړي. **په هېواد کې د تلپاتې سولې ټینګښت، د خلکو په رایو ولاړ سیاسي نظام را مینځته کیدل چې په هېواد کې د ټولو مېشتو وګړو اساسي آزادیو او بشري حقونو ته ژمن او پابند وي**، او همدارنګه بیا رغونه او پرمختګ د دې سیاسي او فکري بهیر اساسي موخې دي.

د ۱۴۰۰ ام کال د زمري د میاشتې په ۲۴ مې نېټې د افغانستان اسلامي جمهوري نظام نسکورول او د ملي روغې جوړې خبرې له ناکامۍ سره مخامخول، د ولس او هېواد په حق کې یوه ستره او نه بخښوونکې جفأ وه چې له امله یې شته نظام له منځه ولاړ، د بدبختیو بیلابیلو اړخونو ولسي نظم تخریب کړ او د خلکو ژوند له جدي ګواښ سره مخامخ شو، د افغانستان سیاسي او اقتصادي نظام وپاشل شو، د هېواد ډېری مېشت وګړي بې کوره شول، او هېواد د یو بل ناورین او د جګړې د دوام ډګر شو.

د افغانستان خلک غواړي ترخو په دې و پوهیږي چې ولې په تیرو شلو کلونو کې د تېل شوي او ویجاړونکې جګړې تر څنګ، د جمهوري اسلامي نظام په بیلابیلو کچو کې د فساد شتون او د قانون د حاکمیت پر وړاندې سرغړونو له امله د افغانستان ولس په دې ونه توانیده چې له سترو ملي او نړیوالو فرصتونو څخه د اقتصادي، ټولنیز او سیاسي پرمختګ په برخه کې ګټه پورته کړي؟ دا د افغانستان د خلکو مسلم حق دی چې غواړي ترخو د یوې شفافې او رڼې پروسې له لارې د هېواد د سیاسي نظام د سقوط او د هېواد د سولې بهیر د اخلالولو داخلي او خارجي عوامل پیدا او وڅېړل شي، او وروسته بیا په ملي او نړیواله کچه مسؤلې کړی تر عدلي او قضائي تعقیب لاندې ونیول شي.

د سولې او عدالت په ملي خوځښت کې شامل ټول ملګري هر وخت حاضر یو چې د ملت او خلکو پر وړاندې ځوابویوونکي واوسو، او د حساب ورکونې په ملي او نړیوال روښانه بهیر کې ونډه واخلو او هم به د دې بهیر په تحقق کې فعالانه او صادقانه هلې ځلې کوو. زموږ مرام دا دی چې عدالت پلی شي او د ملت پروړاندې تللی اعتماد بېرته ترلاسه شي ترخو د هېواد ریښتونې بچیان وکولای شي په دې حساس وخت کې د ملت په ملاتړ ملي او تاریخي رسالت سرته ورسوي.

روښانه ده چې د وسلې په زور د جمهوري اسلامي نظام نسکور ول او د اساسي قانون څنډې ته کول چې د اسلامي او نړیوالو ارزښتونو پر بنسټ یې د قومونو، مذاهبو، ژبو او جنسیتونو حقوق او آزادۍ تضمین کړې وې لویه ملي بدبختي را مینځته کړې ده. د دې غمیزې په پایله کې، زموږ مظلوم ملت له ډېرو بدو تاریخي بحرانونو سره مخامخ شوی دی:


آمو amu.tv

**بشري او اقتصادي بحران** د هېواد تر نيمايي ډېر وګړي له مطلقې لوږې سره مخ کړي دي او د ملي اقتصاد د مديريت د بنسټونو او پروسو له سقوط سره د اوسني ناوړه وضعيت د لا ژورتيا او ورسره تړلې داسې غميزې خطر چې جبران يې سخت وي په بشپړه توګه د تصور وړ دی.

- **د بشري حقونو** اوسنی بحران په هېواد کې د ښځو له اساسي حقونو او ازاديو څخه تر ټولو بد سرغړاوی دی، چې په معاصره نړۍ کې يې سارى نه دى ليدل شوى. د نجونو پر مخ د ښوونځيو تړل او په عمومي توګه له زده‌کړو او کار څخه د مېرمنو محرومول د ټولنې روغتيا او سلامتيا، اقتصادي پرمختيا او د ټولنې وده له جدي او نه جبرانېدونکي ګواښ سره مخامخ کړې ده. د جګړېزو منازعاتو پر مهال د ملګي وګړو پر وړاندې تاوتريخوالی، په جبري توګه له خپلو کورونو څخه د خلکو کوچول د عمومي عفوې د ادعا برخلاف د جنګي بنديانو قتلول، د افغانستان د اسلامي جمهوري نظام د ملکي او نظامي مامورينو وژنه، د بيان آزادۍ او همدارنګه د سياسي فعاليتونو پر وړاندې محدوديتونو لا هم دوام لري. د دغه ډول حالت په پايله کې د هېواد لوستې طبقه د هېواد پرېښودو ته اړ شوې، عامه اداره او د هېواد اقتصادي او ټولنيز نظام له خورا مهمې بشري سرمايې څخه بې برخې کړى شوى دى. د سولې او عدالت ملي خوځښت په هېواد کې د بشري حقونو د سرغړونې يادې پېښې غندي، له اوسني حاکميت او نړۍوالې ټولنې څخه په تکرار غوښتنه کوي چې د دې ډول پېښو مخنيوى وکړي او د هغې عاملين د عدلي څار لاندې و نيسي.
- د هېواد **امنيتي بحران** د سياسي مخالفينو پر وړاندې له تاؤتريخوالي ډک سياست د عملي کېدو او د سياسي مشارکت په ګډون له اساسي حقونو او آزاديو څخه د خلکو محرومول د دې سبب شوي چې دا بحران د هرې ورځې په تېرېدو سره لا  ژور شي.  په هېواد کې د خارجي تروريستي ډلو فعاليت او شتون، او د هغوی د رهبر، ايمن‌الظواهري راڅرګندېدل د اوسني حاکميت د ټولو شويو نړۍوالو ژمنو د ماتېدو ښکاره بېلګه ده او دا به د دې سبب وګرځي ترڅو هېواد مو د تروريزم ضد نه‌ختمېدونکې جنګ په لوی ميدان بدل شي، او هم به د سيمې او لويو قدرتونو د نيابتي جګړو مرکز شي. دا په داسې حال کې ده چې زموږ سوله‌غوښتونکی ملت چې خپله د تروريزم قرباني دی، هېڅکله نه غواړي چې هېواد مو د نړۍ د نيابتي جګړو او سياليو مرکز شي او نړۍوالې ټولنې ته دې د تهديد ذريعه وګرځي. تروريزم که په هر شکل او ماهيت سره وي زموږ د ملي ګټو او ديني ارزښتونو خلاف امر دی.
- **اوسنی سياسي بحران** د ملي حاکميت له اِعمال څخه د ملت د محرومولو او د آزادو رايو له لارې د نظام د مشروعيت د تعين په لاره کې د پرتو خنډونو له امله په وجود راغلی. له ملت څخه د دې اساسي حق په اخستو سره، اوسنی حاکميت له ملي او نړۍوال مشروعيت څخه بې‌برخې دی او د پورتنيو ذکرشويو بحرانونو د حل په پار د ملي او نړۍوالې همکارۍ فضأ له منځه تللې ده.  دا په داسې حال کې ده چې اوسني حاکميت پرته له ملي او نړۍوالې همکارۍ او ملاتړ څخه د هيڅ بحران د حل توانمندي نه لري.



آمو amu.tv

د روانو حالاتو په پام کې نیولو او له اوسني بحراني وضعیت څخه د وتلو په موخه، د سولې او عدالت ملي خوځښت مؤسسانو پریکړه کړې چې لاندې سیاسي برنامه او د لارې نقشه چې پر اتو اساسي محورونو ولاړه ده او هدف یې د سولې ټینګښت او د خلکو پر اراده او رایه متکي نظام رامنځته کول دي، احترامانه د افغانستان شریف ملت او نړیوالې ټولنې د آګاهۍ له پاره وړاندې کړې او د تحقق له پاره یې نه ستړې کېدونکې او دوامداره مبارزې ته دوام ورکړي.

**لمړی: په هېواد کې روان بحرانونه نه یوازې د افغانانو ژوند او راتلونکی، بلکه د سیمې او نړیوالې ټولنې امنیت او ثبات هم له جدي ستونزو، ګواښونو او خطرونو سره مخامخ کړی دی او پرته له شکه د دې ګواښونو له منځه وړل، ملي او نړیوالو ګډو هڅو او همکاریو ته اړتیا لري.**

**دویم: د هیواد اوسنیو بحرانونو ته تلپاتې حل لاره له پوځي لارو نه، بلکې یوازې د ټول شموله سیاسي توافق په مقصد د بین الافغاني رغنده خبرو اترو له لارې ممکنه ده.**

په تېرو څلورو لسیزو کې د حکومتونو د ظهور او پرځولو عمومي تجربو ښودلې ده چې د جنګ او زور له لارې قدرت ته رسېدل د حل تل‌پاتې لاره نه ده. د خلکو د اساسي حقونو او آزادیو د له منځه وړلو په قیمت انحصاري، حزبي او ډله ایز حاکمیت تحمیلول د جنګ او منازعې د دوام لامل شوي او لا نور هم هېواد ژور بحران او ګډوډیو په لور بیایي. د حکومتونو دوام او پایښت د اغېزمنو سیاسي ځواکونو ترمنځ د تفاهم په رڼا کې د خلکو ازادې رایې ته د مراجعې، د ټولنیز عدالت په ټینګښت او د ټولو اتباعو د آزادیو او حقونو په تامین سره ممکن دی او بس.

**دریيم: په هېواد کې د تل‌پاتې سولې او مشروع نظام له پاره د بین‌الافغاني مذاکراتو کامیابي په دې پورې تړلې ده چې د طالبانو تحریک او نړیواله ټولنه د دوحې له تړون سره سم  په خپلو ژمنو صادقانه او پر پایله ولاړ عمل وکړي.**

دا واضح‌کوو چې زموږ ټینګار په بین‌الافغاني مذاکراتو باندې کومه نوې سیاسي او د دوحې له تړون څخه دباندې مفکوره نه ده او باید په عجیبه سترګه ورته و نه کتل شي. د دوحې د تړون لورو  د ترورېزم په وړاندې مبارزې، د بهرنیو ځواکونو د وتل، بین الافغاني مذاکراتو او د نوي اسلامي دولت د تشکیل له پاره ټول ګډونه توافق ته رسېدلو په هکله ځانونه متعهد کړي دي. له دې تعهداتو څخه یوازې یو تعهد چې د بهرنیو ځواکونو وتل دي عملي شوی دی. د پاتې نورو تعهداتو په اړوند یا اصلاً عمل نه دی شوی او یا هم نیمګړی پاتې شوی.

په همدې اساس موږ پر طالبانو غږ کوو ترڅو پرته له کوم مخکني شرط څخه د هېواد اوسني بحراني حالت د پای ته رسیدو په موخه په صادقانه او جدي ډول له نورو موثرو سیاسي او مدني لورو سره بین‌الافغاني مذاکرات پیل کړي او د سولې د تامین، ملي مشارت، او د خلکو پر اراده ولاړ نظام د رامنځته کېدو له پاره ګامونه واخلي.

همدارنګه موږ له نړیوالې ټولنې په ځانګړي توګه د امریکې متحده آیالاتو چې د دوحې د تړون یو لوری دی او هم د ملګرو ملتونو له امنیت شورا څخه چې د دې تړون تائید یې کړی دی، غواړو ترڅو د شویو ژمنو په وړاندې خپل مسوولیت ادا کړي، د دې توافقنامې د تطبیق په لاره کې مانا لرونکې اقدامات او عملي ګامونو پورته کړي ترڅو له خپل نړیوال اعتبار او د نړۍ د سولې او ثبات څخه ساتنه وکړي.

## څلورم: د اسلامي عقایدو په رڼا کې د خلکو پر اراده او رایه ولاړ سیاسي نظام ټینګښت چې د بشر حقونو او د خلکو اساسي آزادیو ته ژمن وي په هېواد کې دومداره سوله، ثبات او دنظام مشروعیت رامنځته کوي.

له بشري حقوقو څخه سرغړونه، له میرمنو څخه د زده‌کړې او کار د حق اخستل، صحي خدماتو ته نه لاس‌رسی، او په سیاسي او مدني مشارکت کې د مېرمنو نه شتون د دې سبب ګرځي ترڅو د ټولنې ثبات، سوله، روان، او روغتیا اغېزمنه شي او د هېواد ټولنیزه او اقتصادي پرمختیا نه‌جبرانېدونکې زیان ووینې.

هېواد مو داسې یو حکومت ته اړمن دی چې پرته له جنسیت او ټولنیزو تعلقاتو څخه د ملت د اساسي حقوقو او آزادیو ساتونکی وي، له اسلامي ارزښتونو، نړۍوالو نورمونو، د ټولنیز بیان له آزادیو، او له سیاسي تشکیلاتو څخه په کلکه ملاتړ وکړي

په هېواد کې د یو  داسې واحد سیاسي نظام بنسټ کېښودل چې د تجزیې وړ نه وي، د خلکو پر آراده او رایه ولاړ وي، د ټینګښت بنیاد یې د اسلام مبین دین او د خلکو نیک فرهنګي باورنه وي، همدارنګه عدالت او د نړۍوالو تعهداتو اصل ته ژمن وي، خپلواک او بې طرفه عدلي او قضایي نظام ولري، غیرمتمرکزه اداره ولري چې د ښځو او نارینه په ګډون د خلکو مشارکت د نظام د ټینګښت سبب شي او ولس ته ځواب ورکونه تضمین کړي د هېواد اصلي او اساسي اړتیا ده.

## پنځم: د ملي مشارکت او ټولنیز عدالت پر بنسټ د ملي یووالي ټینګښت د ملت جوړونې، دولت جوړونې او په هېواد کې د سولې او ثبات د دوام تضمین کوي.

افغانستان د قومي تعدد، ژبنۍ تنوع، مذهبي ترکیب او فرهنګي کثرت د ځانګړنو په درلودلو سره د سیمې له بډایه ملتونو څخه دي. زموږ دا فرهنګي او بډایه ملي پانګه کولی شي د تل لپاره زموږ په ګران هیواد کې د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ او سیاسي یووالي اساس جوړ کړي.

د هېواد د مېشتو قومونو ترمنځ د شخړو رامنځته کول او قومي تعصباتو ته لمن وهل، د افغانستان د خلکو په حق کې ستره جفأ ده. ځانګړو بهرنیو کړیو په دوامداره توګه هڅه کړېده ترڅو د افغانستان په بې‌ثباتۍ، جګړې او ورانۍ کې خپلې ګټې وپالي. دغو کړیو تل هڅه کړې په افغانستان کې بهرنۍ تحمیلي او نیابتي جګړه په دې ډول توجیه کړي چې ګواکې د دوی کار نه دی او دا کار په افغانستان کې د قومي ستونزو له امله دی. زموږ د هېواد دښمنان په دې کوښښ کې دي چې په افغانستان کې د وینې‌بهېدنې او جګړې د


آمو amu.tv

تداوم په پار جګړې ته نوی نوم او رنګ ورکړي او افغان ملت د سولې او ثبات له عظیم نعمت څخه بې‌برخي کړي.

ټول سیاسي، مذهبي او مدني جریانونه او افغان اړخونه د طالبانو په شمول باید د خپلو خلکو تر څنګ د دې تباه‌کوونکو دسیسو په وړاندې په اتحاد او ملي خواخوږۍ ودریږي. د ملت د راتلونکي او سرنوشت خوندي کول، د سولې او ثبات دوام هغه وخت ممکن دی چې د افغانستان د خلکو د آزادو رایو او اردې پر اساس یو نوي ولسي دولت چې د اتباعو حقونو او آزادیو، ټولنیز عدالت او ملي مشارکت ته ژمن وي رامنځته شي.

علماء هغه ځلانده ستوري دي چې په خپلې پوهې او حکمت ټولنې روښانه کوي، د دوی له لارې ملتونه وده کوي، تمدن وده کوي او دوی د ستونزو او ننګونو د حل لپاره ابتکار کوي، په ټولنه کې د انسانیت د ګټو او د انسانیت د خدمت لپاره نه ستړي کیدونکي هڅې په هغې پوهې، حکمت او وقار سره کوي چې دوی ته ورکړل شوي.

یو له مهمو لومړیتوبونو څخه چې علماء یې باید په دې وخت کې په پام کې ونیسي په ټولنو کې د سولې، عدالت، ثبات او ملي یووالی ټینګښت، د شخړو او جګړو د اورونو او د هغوی د لاملونو په له مینځه وړلو کې برخه اخیستل، او د ټولو ترمنځ د متقابل احترام روحیه ژوندۍ ساتل، د تعصب او قوم پالنې په له منځه وړلو کې باید خپل عظیم رسالت ادا کړي .

### شپږم: د هېواد ټولو وګړو ته د عادلانه فرصتونو ویش، او ټولشموله اقتصادي وده، د جګړې د خطراتو په وړاندې د هېواد زیانمنېدنه راکموي او د سولې او ثبات پایښت یقیني کوي.

د جمهوري نظام له را پرځیدو وروسته غربت او اقتصادي مجبوریتونو له زغم څخه پورته حالت اختیار کړی، چې کولی شي د تیرو لسیزو په څیر د اجنبیانو لخوا د جنګ او بې ثباتۍ د دوام په موخه ترې ناوړه ګټه پورته شي. دا د ټولو ملي سیاسي ځواکونو او مدني بنسټونو ملي وجیبه ده ترڅو ملي یووالی رامنځته کړي او  د روان غربت د له منځه وړلو په موخه له هغو سیمه ییزو او نړیوالو فرصتونو څخه چې لا هم په دې لاره کې موجود دي اغیزمنه ګټه پورته او موثر اقدامات تر لاس لاندې ونیسي.

موږ کولی شو په ملي یوالي خپل ګران هېواد له فقر او د جګړې له ورانیو څخه وژغورو. د هیواد د کرنې او مالدارۍ له پاره فوق‌العاده او مناسب اقلیم، پریمانه طبیعي شتمنۍ او زموږ خواري کښه انساني ځواک همدارنګه د سوداګریزو توکو، انرژۍ، مالوماتي تکنالوژۍ او مخابراتو په برخه کې د جنوبي او شمالي آسیا ترمنځ زموږ ستراتیژیک جغرافیایي موقعیت چې د مواصلاتي پول حیثیت لري له خورا زیات اهیمت څخه برخه‌مند دي. هغه څه چې د هېواد په زیاتو تاریخي پړاوونو کې یې وجود نه درلود او اوس هم نشته غوره او داسې مدیریت دی چې له اقتصادي، مالي او پولي فساد څخه پاک وي او له شته امکاناتو څخه د ملي

منافعو په چوکاټ کې د افغانستان د اقتصادي ودې او د خلکو د سوکاله ژوند د کچې د لوړاوي له پاره ترې ممکنه ګټه پورته شي.

ځوانان د سولې په بهیر کې د ونډې اخیستنې له پاره اړین ځواک دی. دوی د جګړې له امله تر ټولو ډېر اغیزمن شوي دي او باید د مثبت بدلون د استازو په توګه د ملت په ویښتیا او د خپل راتلونکي په جوړولو کې مهم رول ولوبوي. په هېواد کې نوی نظام باید د هېواد د ټولو ځوانانو له پاره په شمول دهغو چې د جنګ او نورو عواملو له امله معلولیت لري، د تحصیل، کار، جسمي، فکري او علمي ظرفیتونو د لوړاوي، په سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي ژوند کې د دوی د ګډون له پاره زمینه برابره کړي.

دغه هیله او هدف هغه وخت ترلاسه کېدلی شي چې، د خلکو له آزادۍ او رايې څخه راوتلی نظام چې اساسي حقونو، ازادیو او په هېواد کې ټولنیز عدالت ته ژمن وي قایم شي او د هغې په رڼا کې تلپاتې سوله، ټولیز امنیت او فردي خوندیتوب تامین کړل شي.

په دې ډول شرایطو کې پرته له شک څخه د هغو کډوالو له پاره په خپله خوښه د بیرته را ستنیدو زمینه برابریږي چې له تیرو څلورو لسیزو څخه د زیاتې مودې راهیسې د خپل ګران هېواد پرېښودو ته اړ شوي او په بهرنیو هېوادونه کې یې استوګنه غوره کړې. همدارنګه زموږ د خلکو هغه دوه نسلونه چې په آسیا، اروپا، شمالي امریکا او استرلیا کې له تیرو لسیزو راهیسې ژوند کوي، د اقتصادي ودې او پراختیا په موخه یې د اړتیا وړ لوړې او معاصرې نړیوالې زده کړې، مسلکي او فني علوم زده کړي دي او د ټولنیزې، سیاسي او اقتصادي ودې په برخه کې یې زیاتې تجربې خپلې کړې، د ګران هېواد د ابادۍ او پرمختګ په لاره کې لوی انساني، اقتصادي او فرهنګي پانګه برابروي. له دې پرته له هېواد څخه وتلې مالي سرمایه بیرته خپل وطن ته راګرځي او په لوړه کچه د سالمې بهرنۍ پانګونې د جلب زمینه برابریږي.

همدارنګه باید ټینګار وکړو چې د افغانستان ارزي ذخایر د هېواد د وګړو او راتلونکو نسلونو ګډه پانګه ده چې د اقتصادي ثبات او د ملت د پیرلو د قدرت تضمین کوونکې ده. له دې کلیدي پانګې سره غیرمسؤلانه برخورد به په هېواد کې اقتصادي او بشري بحران لا پراخ کړي. دا چې افغان ملت د 2001 میلادي کال د 11ام سپتمبر تروریستي پېښې د قربانیانو په څېر په تېرو څو لسیزو کې د نړیوال تروریزم قرباني دی، باید د بل چا د تاوان پرې کولو ته مجبور نه کړل شي. موږ له نړیوالې ټولنې په درنښت هیله کوو چې یاده پانګه تر هغې چې د ملت په رایو یو مشروع نظام رامنځته شوی نه وي د امانت په څېر وساتي او په هېواد کې بشري اړتیاوو ته د رسیدګۍ په پار خپلو ټولو سخاوت‌مندانه مرستو ته دوام ورکړي.

### اووم: د افغانستان، سیمې او نړیوالې ټولنې د منافعو او ګډو همکاریو  پر اساس ولاړ خارجي سیاست، د ګډې سولې، ثبات، امنیت او سوکالۍ د خوندیتوب تضمین کوونکی دی.

پرته له شکه په وروستیو لسیزو کې زموږ سیمه په نړۍ کې یو له متزلزلو او نارامه سیمو څخه وه او داسې دولتونه شتون لري چې عادت یې کړی ترڅو خپلې نیابتي جګړې د نورو په خاوره کې و څاري او په نتیجه



آمو amu.tv

کې فقیر هېوادونه د دوي د سیالیو او ګټو قرباني کېږي. په ډېر تأسف سره، په تېرو څلورنیمو لسیزو کې زموږ هېواد د دې بهرني تحمیلي سیاست له لاسه اوړده او ژوره قرباني ورکړې ده.

اوسنی حالات په وضاحت سره ښکاره کوي چې د سیمه ییزو امنیتي او سیاسي سیالو په لړ کې له ترهګریزو ډلو څخه استفاده کول دوام لري او د نړیوال ترورېزم ملاتړي هڅه کوي چې دا ډلې زموږ هېواد ته را ولیږدوي تر څو د نړیوالې ټولنې قهرجن غبرګون په ځای پاتې شي. اوسنی حاکمیت ملي او دیني مسؤلیت لري ترڅو پرېږدي چې زموږ وطن د دې نړیوال ترورېزم په ځاله او یا د لیږد په خوندي ځای بدل شي او د هېواد د بې‌طرفۍ تاریخي اصل تر سوال لاندې راشي.

په همدې ترتیب د هېواد پر تعلیمي بنسټونو ځانګړې او نظامي آیډیالوژۍ تپل؛ کاملاً زموږ د مقدس دین له اساساتو او مقدساتو سره په ټکر کې دی چې له امله یې د ټولنې سالم‌فکري تهداب مختل او د هېواد ثبات له ستر ګواښ سره مخ کړی. ملت، اسلامي هېوادونه او نړیواله ټولنه په هېواد کې له تاوتریخوالي څخه د ډکې بنسټ پالنې د صدور د مراکز له امله ګډه اندېښنه لري چې باید په جدي او چټکه توګه دې مورد ته پاملرنه وشي.

د دې دسیسو پر وړاندې د مبارزې یوازینۍ لاره د خلکو په رایو او ارادې او د اساسي قانون په رڼا کې د نظام تشکیل او د هېواد د وګړو اساسي حقوقو او آزادیو ته غاړه ایښودنه ده. هغه نظام چې د خلکو ملاتړ له ځان سره ونلري، نو نه شي کولای چې د دې مبارزې د اړتیا وړ توانمندي پیدا کړي. له تیرو په ځانګړې توګه د یو کال په موده کې د تر لاسه شویو تجربو څخه په ګټه اخیستنې سره باید موجوده حاکمیت په دې وپوهیږي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې پرته له صادقانه پرمختګ او د خلکو په آراده ولاړ ټولګډونه نظام ته راګرځیدو د افغانستان، سیمې او نړیوالې ټولنې ترمنځ په سیاسي، امنیتي، اقتصادي او فرهنګي برخه کې د تلپاتې همکاریو رامنځته کول ممکن نه دي.

**اتم: د سولې او عدالت ملي خوځښت د تلپاتې سولې د ټینګښت لپاره د خلکو پر اراده او رایه ولاړ نظام، د مېرمنو او نارینه په ګډون د اتباعو حقوق او اساسي ازادۍ، ټولنیز عدالت، ملي مشارکت او ملي یووالی په جدي توګه خپل هدف، تعهد او ماموریت ګڼي او په قوت سره یې تعقیبوي.**

د هېواد په دې حساسو شرایطو کې، موږ به یوازې د څارونکي او نظارت‌کوونکي حیثیت ونلرو. موږ به د دایمي سولې د استقرار او د خلکو په آرادې د رامنځ‌ته کېدونکي نظام د تحقق له پاره په ملي او نړیواله کچه خپلو ټولو هڅو ته دوام ورکړو. د سولې او عدالت ملي حرکت، خپلې برنامې د خلکو د را یوځای کولو، د سیاسي ډلو د همکاریو او د سیمې او نړیوالې ټولنې د ملاتړ د راجلبولو په منظور، په دوو اساسي محورونو کې تنظیموي:

**اول: د تلپاتې سولې او د خلکو په رایه ولاړ نظام په موخه چې د افغانستان د خلکو اساسي حقوقو او آزادیو ته ژمن وي او د بین الافغاني مذاکراتو د تحقق له پاره هڅې؛**



آمو amu.tv

**دويم: په هېواد کې د وګړو انساني او لومړنيو اړتياوو ته رسيدګي، د بشري حقوقو او ښځو د حقوقو د رعايت په موخه د نړۍوالو او ملي هڅو پياوړتيا؛**

دا حرکت له ټولو سياسي اړخونو، نړۍوالې ټولنې او همدارنګه طالبانو څخه په پوره خلوص غواړي ترڅو پرته له مخکني شرط څخه د بيړنيو بين الافغاني مذاکراتو د تحقق له هڅو څخه ملاتړ وکړي او د بشري او ميرمنو حقونو د خونديتوب او د افغانستان د خلکو اساسي انساني اړتياوو ته د رسيدګۍ په موخه ګډې هڅې تر لاس لاندې و نيسي.

زموږ غږ د سولې، د يوبل‌منلو، په هېواد کې د ټولو قومي، مذهبي، ښځو او سړيو، بيلابيلو قشرونو په ګډون د افغانستان د اتباعو د اساسي حقونو د تامين، د مذاکرې پر بنسټ سياسي او ټول ګډونه بين الافغاني روغې جوړې ته د رسيدو له لارې د منازعې د باطلې دورې او جنګ د پای ته رسيدو او د افغانستان د خلکو د ګډ او ټوليز برخليک د بهبود غږ دی.

د ګډون، عدالت او سولې له غږ سره يوځای شئ!

د پاکو شهيدانو روح او ارواه دې ښاده وي،

زموږ مؤمن، عدالت او آزادي غوښتونکی ملت دې ښاد وي!

د دې اعلامې په پای کې له دوه سوه څخه زيات د سولې او عدالت ملي حرکت د ټولو مؤسسينو په استازولۍ، د ښځو او نارينه وو په ګډون، سياسي ، مدني او مذهبي شخصيتونه او جريانونه، تکنوکرات او دولتي شخصيتونه، د ولس منتخب استازي، د مدني ټولنې غړي او علمي کادرونه او رهبران، او د خصوصي سکتور استازي لاسليک کوي.



آمو amu.tv

د افغانستان د سولې او عدالت ملي حرکت د بنسټ ایښودونکو نومونه او تخلصونه د الفبا په ترتیب (تخلص)

| Name | نام | شماره |
|---|---|---|
| Azizullah Aral | عزیزالله آرال | ۱ |
| Mohammed Ishaq Atmar | محمد اسحاق اتمر | ۲ |
| Mohammed Haneef Atmar | محمد حنیف اتمر | ۳ |
| Gulalai Achakzai | گلالی اچکزی | ۴ |
| Laila Ehrari | لیلا احراری | ۵ |
| Surya Ahmadyar | ثریا احمد یار | ۶ |
| Hamida Ahmadzai | حمیده احمدزی | ۷ |
| Hamid Ahmadzai | حمید احمدزی | ۸ |
| Mohammed Nabi Ahmadzai | جنرال محمد نبی احمدزی | ۹ |
| Huma Ahmadi | هما احمدی | ۱۰ |
| Malalai Eshaqzai | ملالی اسحاق زی | ۱۱ |
| Asadadullah | جنرال اسدالله | ۱۲ |
| Khalid Asghari | خالد اصغری | ۱۳ |
| Mohammed Ullah Afzali | محمد الله افضلی | ۱۴ |
| Mir Afghan | میرافغان | ۱۵ |
| Said Afandi | جنرال سید افندی | ۱۶ |
| Surai Akbari | ثریا اکبری | ۱۷ |
| Noor Akbari | نور اکبری | ۱۸ |
| Dr Khadija Elham | داکتر خدیجه الهام | ۱۹ |
| Mohamood Elias | محمود الیاس | ۲۰ |
| Sabri Andarr | صبری اندړ | ۲۱ |
| Amanzeb Ansari | امانزیب انصاری | ۲۲ |



آمو amu.tv

| | | |
|---|---|---|
| Jamahir Anwari | جماهیر انوری | ۲۳ |
| Dr Bakhtiar Urtaq | داکتر بختیار اورتاق | ۲۴ |
| Aurang Zeb | اورنگ زیب | ۲۵ |
| Ewaz Bek Bek Oghli | عوض بیک بیک اوغلی | ۲۶ |
| Farukh Leqa Onchizadah | فرخ لقا اونچی زاده | ۲۷ |
| Baktash Eshji | بکتاش ایشچی | ۲۸ |
| Dr Abdul Wali Aqboloot | داکتر عبدالولی آقبولوت | ۲۹ |
| Abdul Khaliq Aqsai | جنرال عبدالخالق آقسای | ۳۰ |
| Shugufa Bakhtari | شگوفه باختری | ۳۱ |
| Simeen Barakzai | سیمین بارکزی | ۳۲ |
| Bakht Beg | بخت بیگ | ۳۳ |
| Suria Barna | سوریه برنا | ۳۴ |
| Darya Khan Baheer | دریا خان بهیر | ۳۵ |
| Dr Fazil Ahmad Burget | داکتر فضل احمد بورگیت | ۳۶ |
| Ahmad Shah Bayat | احمد شاه بیات | ۳۷ |
| Rahman Nazar Biliam | رحمن نظر بیلیم | ۳۸ |
| Maulood Udin Popal | مولد الدین پوپل | ۳۹ |
| Munir Tarakhail | منیر تره خیل | ۴۰ |
| Mohammad Fahim Tinmis | محمد فهیم تینمس | ۴۱ |
| Suria Sabir | ثریا صبیر | ۴۲ |
| Mohammed Ghaus Janbaz | محمد غوث جانباز | ۴۳ |
| Sultan Ali Jawed | سلطانعلی جاوید | ۴۴ |
| Aziza Jalees | عزیزه جلیس | ۴۵ |
| Mohammed Hafiz Jalali | محمد حافظ جلالی | ۴۶ |
| Said Babur Jamal | سید بابر جمال | ۴۷ |
| Abdul Hakim Jouzjani | عبدالحکیم جوزجانی | ۴۸ |


آمو amu.tv

| | | |
|---|---|---|
| Faqir Mohammed Jouzjani | جنرال فقیر محمد جوزجانی | ۴۹ |
| Mohammed Ayob Jouzjani | حاجی محد ایوب جوزجانی | ۵۰ |
| Fariba Charkhi | فریبا چرخی | ۵۱ |
| Arab Shah Chamtoo | جنرال عرب شاه چمتو | ۵۲ |
| Nabila Habibi | نبیله حبیبی | ۵۳ |
| Dad Mohammed Harifi | دادمحمد حریفی | ۵۴ |
| Hassibullah | حسیب الله | ۵۵ |
| Enayetullah Hafeez | عنایت الله حفیظ | ۵۶ |
| Saadullah Haqyar | سعدالله حقیار | ۵۷ |
| Lailuma Hakami | لیلما حکمی | ۵۸ |
| Ahmad Wali | احمد ولی | ۵۹ |
| Mohammed Haleem | محمد حلیم | ۶۰ |
| Farida Hamidi | فریده حمیدی | ۶۱ |
| Nooria Hamidi | نوریه حمیدی | ۶۲ |
| Khudaidad | جنرال خدایداد | ۶۳ |
| Ferozan Khalilyar | فروزان  خلیلیار | ۶۴ |
| Sana Ullah Zazai | ثنا الله ځائی | ۶۵ |
| Danish Ahmad Danishwar | دانش احمد دانشور | ۶۶ |
| Mohammed Haneef Danishyar | محمدحنیف دانشیار | ۶۷ |
| Nilab Dehqan | نیلاب دهقان | ۶۸ |
| Kobra Dehqan | کبرا دهقان | ۶۹ |
| Mohammed Zahir Dawran | محمد ظاهر دوران | ۷۰ |
| Masooda Dostyar | مسعوده دوستیار | ۷۱ |
| Jamhur Doghan | جمهور دوغن | ۷۲ |
| Paighumbar Doghan | پیغمبر قل دوغن | ۷۳ |
| Dr Mobarez Rashidi | داکتر مبارز راشدی | ۷۴ |


آمو amu.tv

| | | |
|---|---|---|
| Sabrudin Rahmani | صبرالدین رحمانی | ۷۵ |
| Abdul Rahman Rahman | عبدالرحمن رحمن | ۷۶ |
| Yaqub Ali Rahimi | یعقوب علی رحیمی | ۷۷ |
| Shaima Rustamian | شیما رستمیان | ۷۸ |
| Basira Rasuli | بصیره رسولی | ۷۹ |
| Fawzia Rawoofi | فوزیه روفی | ۸۰ |
| Najia Rawoofi | ناجیه روفی | ۸۱ |
| Ahmad Jawed Rawoof | احمد جاوید رووف | ۸۲ |
| Shila Zari | شیلا زارع | ۸۳ |
| Zarmina Zari | زرمینه زارغ | ۸۴ |
| Sharifa Zurmati | شریفه زرمتی | ۸۵ |
| Ghulam Mohammed Zalmay | غلام محمد زلمی | ۸۶ |
| Habib Zalmai | حبیب زلمی | ۸۷ |
| Najla Zamani | نجلا زمانی | ۸۸ |
| Dr Farooq Zamani | داکتر فاروق زمانی | ۸۹ |
| Said Noorullah Sadat | سید نورالله سادات | ۹۰ |
| Mojiba Sadat | مجیبه سادات | ۹۱ |
| Said Ahmad Shah Sadat | سید احمد شاه سادات | ۹۲ |
| Sayera Shakib Sadat | سایره شکیب سادات | ۹۳ |
| Fateh Khan Saaie | جنرال فتح خان ساعی | ۹۴ |
| Mohammed Alim Saaie | محمد عالم ساعی | ۹۵ |
| Taqi Salik | ماستر تقی سالک | ۹۶ |
| Hassibullah Stanekzai | حسیب الله ستانکزی | ۹۷ |
| Mohammed Masoom Stanekzi | محمد معصوم ستانکزی | ۹۸ |
| Lina Sarbiland | لینا سربلند | ۹۹ |
| Nazar Mohammed Sangeen | نظرمحمد سنگین | ۱۰۰ |



آمو amu.tv

| | | |
|---|---|---|
| Said Esmatullah | سیدعصمت الله | ۱۰۱ |
| Said Abdul Ghafar Saidzadah | سید عبدالغفار سیدزاده | ۱۰۲ |
| Taj Sirat | تاج سیرت | ۱۰۳ |
| Mohammed Ajmal Shapoor | محمد اجمل شاه پور | ۱۰۴ |
| Najiba Sharif | نجیبه شریف | ۱۰۵ |
| Nooria Sharifi | نوریه شریفی | ۱۰۶ |
| Mohammed Yama Shams | محمد یما شمس | ۱۰۷ |
| Dr Jalil Ahmad Shams | داکتر جلیل احمد شمس | ۱۰۸ |
| Yagana Shahab | یگانه شهاب | ۱۰۹ |
| Shirin Shahabi | شیرین شهابی | ۱۱۰ |
| Dr Mehrabudin Shirzad | دکتر محراب الدین شیرزاد | ۱۱۱ |
| Abdul Rasool Sabir | عبدالرسول صابر | ۱۱۲ |
| Zaifanoon Safi | ذیفنون صافی | ۱۱۳ |
| Yousef Safi | یوسف صافی | ۱۱۴ |
| Mohammed Hussain Salihi | محمد حسین صالحی | ۱۱۵ |
| Jan Aqa Sayem | جان آقا صایم | ۱۱۶ |
| Halima Sadaf | حلیمه صدف | ۱۱۷ |
| Khwaja Ferotan Sidiqi | خواجه فروتن صدیقی | ۱۱۸ |
| Dr Najiba Ziayee | داکتر نجیبه ضیایی | ۱۱۹ |
| Najibullah Abed | نجیب الله عابد | ۱۲۰ |
| Atifa | عاطفه | ۱۲۱ |
| Dr Alima | داکتر عالمه | ۱۲۲ |
| Abdul Khaliq | حاجی عبدالخالق | ۱۲۳ |
| Abdul Azim | عبدالعظیم | ۱۲۴ |
| Kamaluldin Arab | جنرال کمال الدین عرب | ۱۲۵ |
| Abdul Shafi Azizi | عبدالشفیع عزیزی | ۱۲۶ |


آمو amu.tv

| | | |
|---|---|---|
| Najibullah Azizi | نجیب الله عزیزی | ۱۲۷ |
| Rohullah Ataee | روح الله عطایی | ۱۲۸ |
| Salamat Azimi | سلامت عظیمی | ۱۲۹ |
| Rida Azimi | ریدا عظیمی | ۱۳۰ |
| Abdul Qadir Azimi | عبدالقدیر عظیمی | ۱۳۱ |
| Toba Azimi | توبا عظیمی | ۱۳۲ |
| Eqbal Ali | جنرال اقبال علی | ۱۳۳ |
| Ali | علی | ۱۳۴ |
| Mehrab Ali | محراب علی | ۱۳۵ |
| Mohammed Ali | محمد علی | ۱۳۶ |
| Esmatullah Alizai | عصمت الله علی زی | ۱۳۷ |
| Mohammed Ajmal Omar | محمداجمل عمر | ۱۳۸ |
| Shahnaz Ghausi | شهناز غوثی | ۱۳۹ |
| Abdul Haq Ghori | عبدالحق غوری | ۱۴۰ |
| Basir Ahmad Faizi Ghoriani | بصیر احمد فیضی غوریانی | ۱۴۱ |
| Abd Ghani Ghoriani | عبد غنی غوریانی | ۱۴۲ |
| Nisar Ahmad Ghoriani | نثار احمد غوریانی | ۱۴۳ |
| Yasameen Ghiasi | یاسمین غیاسی | ۱۴۴ |
| Fateh | فاتح | ۱۴۵ |
| Asadullah Farahi | اسدالله فراهی | ۱۴۶ |
| Malik Faisal Farahi | ملک فیصل فراهی | ۱۴۷ |
| Abdul Nasir Farahi | عبدالنصیر فراهی | ۱۴۸ |
| Ferishta Farah | فرشته فرح | ۱۴۹ |
| Fardin | فردین | ۱۵۰ |
| Dr Fardina | داکتر فردینا | ۱۵۱ |
| Asad Farhad | اسد فرهاد | ۱۵۲ |



آمو amu.tv

| | | |
|---|---|---|
| Zabiullah Farhang | ذبیح الله فرهنگ | ۱۵۳ |
| Nek Bakht Fahimi | نیک بخت فهیمی | ۱۵۴ |
| Sabor Formoli | جنرال صبور فورملی | ۱۵۵ |
| Humayoon Fawzi | محمد همایون فوزی | ۱۵۶ |
| Qasim | قاسم | ۱۵۷ |
| Lutfullah Qoraishi | لطف الله قریشی | ۱۵۸ |
| Najiba Qoraishi | نجیبه قریشی | ۱۵۹ |
| Musafir Qoqandi | مسافر قوقندی | ۱۶۰ |
| Mohammed Shakir Kargar | محمد شاکر کارگر | ۱۶۱ |
| Sanjar Kargar | سنجر کارگر | ۱۶۲ |
| Baktash Kargar | بکتاش کارگر | ۱۶۳ |
| Zarmina Kakar | زرمینه کاکړ | ۱۶۴ |
| Palwasha Kakar | پلوشه کاکړ | ۱۶۵ |
| Fariaba Kakar | فریبا کاکړ | ۱۶۶ |
| Dr Said Ibrahim Kamil | دوکتور سید ابراهیم کامل | ۱۶۷ |
| Shir Aziz Kamawal | شیر عزیز کامه وال | ۱۶۸ |
| Zabiullah Kalim | ذبیح الله کلیم | ۱۶۹ |
| Mohammed Kamal | محمد کمال | ۱۷۰ |
| Nilab Kamalzai | نیلاب کمالزی | ۱۷۱ |
| Mohammed Kamin | محمد کمین | ۱۷۲ |
| Farzana Kochi | فرزانه کوچی | ۱۷۳ |
| Ali Gauhar | جنرال علی گوهر | ۱۷۴ |
| Dr. Said Mohammed Alim Labib | دوکتور سید محمد عالم لبیب | ۱۷۵ |
| Mohammed Baqir | محمد باقر | ۱۷۶ |
| Abdul Qadir Malia | عبدالقادر مالیه | ۱۷۷ |
| Mohammed Mobin | محمد مبین | ۱۷۸ |



آمو amu.tv

| | | |
|---|---|---|
| Hila Mujtaba | هیله مجتبی | ۱۷۹ |
| Farhad Majidi | فرهاد مجیدی | ۱۸۰ |
| Bahadur Majidi | بهادر مجیدی | ۱۸۱ |
| Nazar Mohammed | نظر محمد | ۱۸۲ |
| Mohammed Shafiq | محمد شفیق | ۱۸۳ |
| Murad Ali Khan | مراد علی خان | ۱۸۴ |
| Asadullah Muradi | اسدالله مرادی | ۱۸۵ |
| Amir Samad Muradi | امر صمد مرادی | ۱۸۶ |
| Safa Mazari | صفا مزاری | ۱۸۷ |
| Mohammed Esa Mesbah | محمد عیسی مصباح | ۱۸۸ |
| Mohammed Mostafa | محمد مصطفی | ۱۸۹ |
| Mohammed Haroon Milati | محمد هارون ملتی | ۱۹۰ |
| Jarullah Mansuri | جارالله منصوری | ۱۹۱ |
| Mohammed Sami Mohmand | محمد سمیع مهمند | ۱۹۲ |
| Khalid Mohmand | خالد مومند | ۱۹۳ |
| Abdul Azim Momand | عبدالعظیم مومند | ۱۹۴ |
| Safia Milad | صفیه میلاد | ۱۹۵ |
| Najia | ناجیه | ۱۹۶ |
| Mohammed Nasir | محمد ناصر | ۱۹۷ |
| Menhaj Udin Nasiri | منهاج الدین ناصری | ۱۹۸ |
| Hakim Nasiri | حکیم ناصری | ۱۹۹ |
| Aminudin Nasiri | امین الدین ناصری | ۲۰۰ |
| Fawzia Nasiryar | فوزیه ناصریار | ۲۰۱ |
| Wali Shah Nayebzadah | ولی شاه نایب زاده | ۲۰۲ |
| Ruqia Nayel | رقیه نایل | ۲۰۳ |
| Nisar Ahmad | نثار احمد | ۲۰۴ |

| | | |
|---|---|---|
| Najila | نجیلا | ۲۰۵ |
| Atiqullah Nasrat | عتیق الله نصرت | ۲۰۶ |
| Khudai Birdi Nazari | خدای بیردی نظری | ۲۰۷ |
| Naqibullah | نقیب الله | ۲۰۸ |
| Dr Ghulam Sakhi Noor Oghli | داکتر غلام سخی نوراوغلی | ۲۰۹ |
| Hawa Alam Nooristani | حوا علم نورستانی | ۲۱۰ |
| Qamar Banu Nooristani | قمربانو نورستانی | ۲۱۱ |
| Muzhda Naurozi | مژده نوروزی | ۲۱۲ |
| Esmatullah Nekzad | عصمت الله نیکزاد | ۲۱۳ |
| Sabira Nekzad | صابره نیکزاد | ۲۱۴ |
| Dr Faraidoon Hashimi | داکتر فریدون هاشمی | ۲۱۵ |
| Said Mohammed Khalid Hashimi | سید محمد خالد هاشمی | ۲۱۶ |
| Dr Hadi Hidayeti | داکتر هادی هدایتی | ۲۱۷ |
| Baryalai Helali | بریالی هلالی | ۲۱۸ |
| Wahdadullah | وحدت الله | ۲۱۹ |
| Dr Mohammed Qasim Wafayizadah | داکتر محمد قاسم وفایی زاده | ۲۲۰ |
| Victoria | ویکتوریا | ۲۲۱ |
| Yargul Khan | یارگل خان | ۲۲۲ |
| Yasin Khan | یاسین خان | ۲۲۳ |


آمو amu.tv

۲۳ میزان ۱۴۰۱ (۱۵ اکتوبر ۲۰۲۲ )

آمو amu.tv